قسم دی زما په هغه ذات وي چې زما ساه د هغه په لاس کې ده خامخا به د پخوانیو په طریقو به لاړ شئ

له ابو واقد لیثي رضی الله عنه څخه روایت دی چې: کله رسول الله - صلی الله علیه وسلم - حنین لورې ته ووت نو د مشرکانو په یوه ونه تېر شو چې هغې ته یې (ذات انواط) ویلې - چې دوی به پکې خپلې وسلې ځړولې، نو دوی وویل: ای د الله رسوله! مونږ ته هم یو ذات انواط وګرځوه لکه څرنګه چې دوی ذات انواط لري، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: «سبحان الله! دا داسې خبره ده لکه د موسی قوم چې وویل: {اجْعَل لَّنَا إِلَـهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ} (ای موسٰی! زمونږ لپاره (هم) داسې معبود جوړ کړه، لکه څنګه چې د دوی لپاره معبودان دي)، [الأعراف سورت: 138 آیت] قسم دی زما په هغه ذات وي چې زما ساه د هغه په لاس کې ده خامخا به د پخوانیو په طریقو به لاړ شئ».

[صحیح دی] [الترمذي او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم حنین ته چې د طائف او مکې تر منځ یوه دره ده، لاړ او له هغه سره یې څو اصحاب هم وو چې په دې وروستیو کې یې اسلام قبول کړی و. نو له یوې ونې څخه تېر شول، چې نوم یې "ذات أنواط" وه، یعنې هغه چې شیان وړپورې تړل کېدل، نو مشرکانو به یې تعظیم کاوه او خپلې وسلې او نور شیان به یې د برکت په موخه وړپورې تړل، نو له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یې وغوښتل چې د دوی لپاره هم دې ته ورته یوه ونه وټاکي چې خپلې وسلې پرې د برکت په موخه وځړوي. فکر یې کاوه چې دا کار به جایز وي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې خبرې په غندلو سره د الله جل جلاله حمد او ستاینه ادا کړه او ویې ویل چې دا خبره د موسی د قوم هغې وینا ته ورته ده چې ویې ویل: {اجعل لنا إلهًا كما لهم آلهة}،یعنې {زمونږ لپاره هم یو معبود جوړ کړه لکه څنګه چې دوی معبودان لري}. کله یې چې هغه کسان ولیدل چې د بتانو عبادت یې کاوه، نو غوښتنه یې وکړه چې دوی هم داسې بتان ولري لکه مشرکان یې چې لري او دا د هغوی د تګلارې پیروي ده. بیا یې خبر ورکړ چې دا قوم به خامخا د یهودانو او نصاراوو لاره تعقیبوي او هغه څه به کوي چې دوی کړي دي، په دې اړه یې خبرداری ورکړ.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5927